## د افغانستان اسلامي امارت

## د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## او

## عامې روغتيا وزارت تر منځ د همکاريو هوکړه ليک

کال 1444 هـ. ق /1401

د افغانستان اسلامي امارت
د دفتر رياست
MORR
STAFF HEAD OFFICE
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## سريزه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د هېواد په کچه دا مسؤليت لري، چې د مهاجرينو او داخلي بېځايه شويو وضعيت ته لاسرسی ولري او د دوی د حقوقونو تامين اود ژوند د ارامی او سوکالی له پاره بېلابېلي برنامې په لاره واچوي، څرنګه چې تولو ته معلومه ده چې افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې په نړی کې تر تولو زيات بېځايه شوي او مهاجرين لري. چې د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت په يوازې توګه د دوی د مديريت توان نلری، نو اړتيا ده چې نور اړونده ادارات په خپله برخه کې د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سره لاس يو کړي چې له هغې جملې څخه د عامې روغتيا وزارت د يوی سکتوری ادرای په توګه د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سره همکاری ترسره کوي.

په همدې اساس د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت او عامې روغتيا وزارت راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو ته د صحی خدمتونو وړاندې کولو په موخه د همکاريو دا هوکړه ليک لاسليک کړی دی.

## لومړی فصل

### عمومي احکام

### د هوکړه ليک منظور

**اوله ماده**

دا هوکړه ليک راستنېدونکو او داخلي بېځايه شوو ته د خدمتونو اسانه کولو په منظور د دواړو لوريو ترمنځ لاسليک شوی دی .

د هوکړه ليک طرفين

**دوهم ماده**

دغه هوکړه ليک د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت او د عامې روغتيا وزارت ، چې له دې وروسته د لوريو په نوم يادېږي لاسليک شوی او دواړه لوري د هوکړه ليک د مفادو په اجرا ژمن دي.

**موخې**

**درېيمه ماده**

**دغه هوکړه ليک لاندې موخې لري**

1. راستنيدونکو او داخلی بيځايه شوی د مرستو او صحی خدمتونو څخه برخمند کيدل
2. د راستنيدونکو او داخلی بيځايه شويو زيانمنو وګړو ته رسيدنه او پاملرنه

د افغانستان اسلامي امارت
د دفتر رياست
MORR
STAFF HEAD OFFICE

3. د مزمنو امراضو څخه د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو وقایه
4. د هوکړه لیک د لوریو ترمنځ د همکاری او همغږی پیاوړي کول

## دوهم فصل

**د لوریو ژمنې**

**څلورمه ماده: د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ژمنې**

1. د عامې روغتیا وزارت ته د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو او د هغوی د کمپونو او ښارګوټو دمشخصاتو او شمیرو وړاندې کول
2. دعامې روغتیا وزارت کارکوونکو ته د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو د اوسیدني ځایونو ته د لاسرسی پیدا کولو زمینه برابرول
3. د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو د اوسیدني ځایونو کې د صحی مرکزونو د ایجاد لپاره د ضرورت وړ ځایونو تشخیص او تسهیل
4. د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو زیانمنو وګړو (په صعب العلاجه مرضونو اخته) معلومول او دعامې روغتیا وزارت ته د تداوی لپاره ورپیژندل
5. د عامې روغتیا وزارت د معیارونو په پام کې نیولو سره راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو لپاره د اړتیا په اساس د ګرځنده کلینکونو غوښته

**د عامې روغتیا وزارت ژمنې**

**پنځمه ماده:**

1. د هغو راستنیدونکو او داخلي بیځایه شویو چې په صعب العلاج امراضو اخته وی په ملي روغتونونو کې د تداوی زمینه برابرول ؛ په هغه صــورت کې چې علاج یې د هیواد په داخل کې امکان ونلري دعامې روغتیا وزارت د موجوده امکاناتو په نظر کې نیولو ســره د وزارت همکارو ملی او نړیوالو اداراتو ته د هغو ورپیژندل.
2. دعامې روغتیا وزارت دپالیسی سره سم د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو د اوسیدني ځایونو کې د صحی مرکزونو او کلینکو جوړول
3. د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو د اوسیدني ځایونو لپاره د ګرځنده کلینکو پروګرام په لاره اچول
4. دعامې روغتیا وزارت د پالیسی سره سم د مهاجرینو په ښارګوټو، راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو د اوسیدنی ځایونو کی د روغتیایی وقایوي عامه پوهاوی پروګرامونو په لاره اچول.
5. د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو د ښځینه قشر د صحی ستونزو د حل په موخه د ښځینه صحی کارکوونکو (د اسلامی احکامو په نظر کې نیولو سره) د شمیر زیاتوالی.
6. د راستنیدونکو او داخلی بیځایه شویو د واکسیناسیون د تطبیق په موخه د لازمو تدبیرونو نیول.
7. د دې هوکړه لیک په پام کې نیولو سره د اجرا شویو فعالیتونو په هکله د مهاجرینو وزارت سره د اطلاعاتو شریکول.

**د لوریو مشترکې ژمنې**

د افغانستان اسلامي امارت
د دفتر ریاست
MORR
STAFF HEAD OFFICE

**شپږمه ماده**

1. د تطبيق په موخه دومي واحدونو ته د دي هوکړه ليک استول.
2. د د راستنيدونکو او داخلي بيځايه شويو دصحی پروګرامونو د تمويل لپاره د کومک کوونکو (دونرانو )څخه د مالي وجوه د جذب لپاره هڅه کول
3. د معلوماتو د شــــريکولو، د اجرااتو د ارزوني او د جلســـاتو د تدوير په موخه په مرکز کي د دواړه لوريو لخوا د ارتباطی شخص يو بل ته وريپژندل
4. په اړونده رسمی انټرنيتی سايټونو کي د تطبيق شويو پروګرامونو خپرول
5. دلاسته راغليو معلوماتو د محرميت ساتنه

## درېيم فصل

**نهايي احکام**

**د وجايبو ساتنه**

**اوومه ماده**

1. د دي هوکړه ليک پلي کول د لوريو مسؤليت دی ، لوری نشي کولای، چې دخپلي ژمني د پلي کولو لپاره بل ځای ناستی وټاکي مګر بل نهاد کولای شي چې د همکار په توګه پروسه کي برخه واخلي.
2. په دي هوکړه ليک کي درج شوي مواد د لوريو په موافقه تدوين شوي دي، د پلي کولو وړ ګڼل کيږي هر لوری د خپلو وظايفو ساتلو ته ژمن پاتي کيږي.

**دستونزي د حلولو کړنلاره ( د نظرونو اختلاف)**

**اتمه ماده**

د دي هوکړه ليک دموادو اړوند اختلاف د لوريو د مخامخ مذکراتو له لاری د ښه نيت پربنسټ په دوستانه شکل حل اوفصل کيږي.

د افغانستان اسلامي امارت
د دفتر رياست
MORR
STAFF HEAD OFFICE
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

**د موادو فسخه، تعدیل او زیاتوالی**

**نهمه ماده**

1. په دې هوکړه لیک کې زیاتوالی او تعدیل د یو طرف په رسمي وړاندیز او د بل طرف په موافقې صورت مومي.
2. د دې هوکړه لیک د فسخې وړاندیزې د طرفینو په رسمي غوښتنې یو میاشت مخکې د فسخې څخه دطرفینو د باصلاحیته استازې په توسط وړاندې کېږي.
3. د دې مادې دوهم جز په اړوند نهایي پرېکړه د خبرو اترو وروسته صورت مومي.

**د دې هوکړه لیک د اعتباره نېټه :**

**لسمه ماده**

دا هوکړه لیک د لاسلیک شوې نېټې څخه تر درېو کالو پورې د اعتبار وړ دی.

**د دې هوکړه لیک انفاذ**

**یوولسمه ماده**

دا هوکړه لیک په یوولسو مادو کې په دوه ژبو پښتو او درې ترتیب شوی او وروسته د ذیصلاح مراجعو له لاسلیک څخه نافذ او د اجرا وړ دی.

| | |
|---|---|
| **لاسلیک** | **لاسلیک** |
| **الحاج خلیل الرحمن حقاني** | **دوکتور قلندر عباد** |
| **د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر** | **د عامې روغتیا وزارت سرپرست وزیر** |

د افغانستان اسلامي امارت
د دفتر ریاست
MORR
STAFF HEAD OFFICE
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت